د چټک خپراوي لپاره

**افغانستان: د افغان میرمنو سره شوې ژمنې پوره کړئ**
د میرمنو په وړاندې د تونډلارو تهدید مخ پرزیاتیدو دی، دولت په خوندي ساتلو کې پاتې راځي

**(نیویارک، 6 دسامبر 2009)** – د بشر د حقوقو د څار ادارې په خپل یو نوي راپور کې چې نن یې خپور کړ ئ وویل، د طال بانو د رژیم د راپرځیدو څخه اته کاله وروسته، میرمن ې او نجونې اوس هم په لوړه کچه په تاوتریخوالي او تبعیض باندې د اخته کیدو څخه سرټکوي او عدالت او زده کړې ته ډیر لږ لاس رسی لري . همدارنګه افغان دولت هم پاتې راغلی چې په عامه ژوند کې د مشهورو میرمنو وژونکي د عدالت منګولو ته راکش کړي، او د هغو کسانو لپاره د جزا څخه معافیت رامنځته کوي، کوم چې میرمنې په نښه کوي.

دغه ۹۶ مخ ایز راپور، "مونږ د نړۍ ژمنې له ځانه سره لرو : په افغانستان کې د میرمنو حقوق "، په پنځو برخو کې د حقونو د روانو سرغړونو بیلګه ایزې قضیې په تفصیل سره بیانوي: په عامه ژوند کې په میرمنو باندې یرغل، د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی، د ماشوم او زور ودونه، عدالت ته لاس رسی او ثانوي زده کړو ته دنجونو لاس رسی.

"د افغان میرمنو وضعیت ډارونکی دی او کیداي شي چې لا خراب شي، " داخبره په افغانستان کې د بشر د حقوقو د څار ادارې څیړونکي راشل ریډ (Rachel Reid) وکړه. "لکه څرنګه چې نړۍ د ولسمشر اوباما د ادارې په نوې امنیتي تګلارې باندې تمرکز کوي، دا مهمه ده چې ډاډ ترلاسه شي چې دمیرمنو او نجونو حقونه یواځې چاپلوسي نشي، پداسې حال کې چې د دولت او بسپنه کوونکو لخوا له پامه غورځول کیږي."

لکه څرنګه چې د طالبانو د رژیم په مهال د میرمنو خراب وضعیت د ۲۰۰۱م کال حملې ته په لاره هوارولو کې مرسته وکړه، د میرمنو حقوق د دولت او د هغوي د نړیوالو ملاترو لپاره یو ثابت لومړیتوب نه ؤ . په دولت کې د بنسټ پالو ډلو د ځواک په ترلاسه کولو، د جګړه مارو ډلو میدان ته راوتل، او د طالبانو د ډلو سره ځینې احتمالي پخلاینو د افغان میرمنو او نجونو هغه لاسته راوړنې چې د ۲۰۰۱م کال راهیسې یې د زده کړې، کار، او تګ راتګ د ازادۍ په برخو کې لرلې، له سخت تهدید سره مخ کړي دي.

"میرمنې زمونږ د خپل دولت او نړیوالې ټولنې لپاره یو لومړیتوب ندی،" شینکی کروخیل، د پارلمان غړې، د بشر د حقوقو د څار ادارې ته دا خبره وکړه. "مونږ له پامه غورځول شوي یو."

په عام ژوند کې میرمنې په عادي ډول سره تر تهدید لاندې نیول کیږي. ډیرې لوړ پوړې میرمنې ووژل شولې مګر د هغوي وژونکي د عدالت منګولو ته ر اکش نه شول. کله چې ستاره اڅکزۍ چې د بشر د حقوقو یوه سپینه وینا کوونکې او باتوره مدافع وه، د ۲۰۰۹ م کال د اپریل په میاشت کې ووژل شوه، د هغې وژل د ټولو هغو میرمنو لپاره یو بل ګواښ ؤ کومو چې په عامه ژوند کې فعال رول لرلو.

هغه لوړ پوړې میرمنې چې ددې راپور لپا ره ورسره مصاحبې ورسره وشولې وایي چې کله هغوي د تهدید په اړه راپور ورکوي د هغوي خبرې ته جدي پام نه کیږي . د پارلمان یوې غړې چې د امنیتي ستونزو له امله یې د نوم د اخیستلو څخه ډډه وکړه، د بشر د حقونو د څار ادارې ته داسې وویل:

"ما ډیر تهدیدونه ګاللي دي . ځینې و ختونه زه یې راپور ورکوم مګر چارواکي راته وایي چې ځآنته دښمنان مه جوړوه او د چوپ پاتې کیدو سپارښتنه راته کوي. مګر څرنګه زه کولاې شم چې د میرمنو او بشر د حقونو په اړه د خبرو کولو څخه ډډه وکړم."

یوې ښځینه پولیس افسرې چې د مرګ ګواښ ورته شوی ؤ داسې وویل:

"هغوي راته وویل چې لونې به دې ووژنو . هره دقیقه زه ویریږم. زه هیڅکه کور ته نشم تللاي – دولت نشي کولاي چې ما هلته خوندي وساتي. زما زوړ زوند پاي ته رسیدلی دی."

په ملي کچه يوه ترسره شوې سروې چې د افغان ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي کچه په ګوتو کوي، معلومه کړه چې ۵۲ فيصده ځواب ويونکي له فزيکي زورزياتي سره مخ شوي دي . اوس هم د ټولنيزو او حقوقي خنډونو له امله د ګوتو په شمار يو څو ميرمنې او نجونې د تاوتريخوالي په اړه دولتي چارواکو ته خبر ورکوي . دا خنډونه په ځانګړي ډول د جنسي تجاوز په قضيو کې ډير ترسترګو کيږي . اګرچې د مېرمنو د حقونو پلويان او د پارلمان غړي پدې کې برياليي شول چې جنسي تجاوز ته د قانون په پاڼو کې ځاي ورکړي، پدې اړه دولت ډير لږ دلچسپي وښوده ترڅو د هرې قضيې سره د يوه جدي جرم په توګه عمل وکړي او يا د عامه پوهاوي په کمپاين کې ښکيېل شي. ترڅو په نظرونو کې بدولون راولي.

د عدالت نشتوالی د ميرمنو د زيان موندنې کچه څو برابره کوي . يوې ميرمنې چې په ډليز ډول د يوه ځواکمن قوماندان ځوي لخوا ورسره جنسي تيری شوی ؤ، جوته کړه چې د يوې اوږدې مودې د هڅو څخه وروسته يې خپل تيري کوونکي د عدالت منګولو ته راکش کړل، مګر بيا هم هغوي د ول سمشر د يو فرمان په ترڅ کې خوشې کړل شول. د نوموړې پيښې څخه ډير زر ورسته په همغه ۲۰۰۹ کال کې يې خاوند ووژل شو. نوموړې ميرمن د بشر د حقونود څار ادارې ته وويل چې خاوند يې ځکه ووژل شو چې د هغې د حقونو څخه يې دفاع کوله:

> هغې وويل، "ما خپل ځوي، خپل پت او ان اوس خپل خاوند له لاسه ورکړل، مګر زه يواځې يوه بې وزله ميرمن يم نو څوک به ماته غوږ ونيسي؟"

سروې ګانې ښيي چې له نيمايي څخه زياتې ميرمنې د ۱۶ کلنۍ د عمر څخه په کم عمر کې واده کيږي، او د ۷۰ څخه تر ۸۰ فيصده پورې نجونې او ميرمنې د هغوي د رضايت څخه پرته واده کيږي . دا کړنې د ډيرو هغو ستونزو سرچينه جوړوي له کومو سره چې نجونې او ميرمنې مخ کيږي، ځکه چې د کورني تاوتريخوالي او د وخت څخه پخوا او يا زور ودونو ترمنځ قوي خپل منځې اړيکې موجودې دي.

يوې ۱۳ کلنې انجلۍ چې د زور واده ته مجبوره شوې وه ، وروسته له هغه چې د خپل خاوند د کور څخه تښتيدلې وه د بشر د حقونو د څار ادارې ته داسې وويل : "هغوي راغلل او ماته يې وويل چې بيرته د هغوي کور ته ولاړه شم، ما ورته وويل چې نه، هغوي بيا بيا راتلل، ما بيا هم ورته ويل چې نه... زه بيرته نشم تلاي. هغوي غواړي چې ما ووژني" د ميرمنو د حقونو هغو پلو يانو کومو چې انجلۍ ته پناه ورکړې وه په پارلمان کې په بد نوم ياد شول . ددې قضيې کلونه پوره شول مګر بياهم نوموړې ميرمن د غير قانوني واده څخه خپل د تفريق حق غوښتلو ته ادامه ورکوي.

پدغه راپور کې دا د ميرمنو يو له هغو قضيو څخه ده چې هغه اساسي ستونزې په ګوته کوي له کومو سره چې ميرمنې او نجونې عدالت ته د لاس رسي په برخه کې لاس او ګريوان دي . مطالعات ښيي چې د نيمايي څخه زياتې ميرمنې د "اخلاقي جرمونو" په تور په زندانو کې شپې سبا کوي، لکه زنا يا د کورڅخه تيښته، اګر چې د کور څخه تيښته په افغاني قانون او شريعت کې جرم نه ګڼل کيږي. مګر که د لوړ شهرت لرونکې ميرمن د تهديد لاندې وي، يوه ځوانه ميرمن چې غواړي له کور څخه تيښته وکړي، د ماشوم واده يا جنسي تجاوز چې غواړي تجاوز کوونکو ته يې سزا ورکول شي، پدې ټولو حالاتو کې د پوليسو او يا محاکمو ځواب د جګړې څخه ډک وي.

"پوليس او څارنوالان د ميرمنو په وړاندې تاوتريخوالي ته د يوه مشروع عمل په سترګو ګوري، همدا وجه ده چې قضيې يې ترتعقيب لاندې نه نيسي "، دا خبره د بشر د حقوقو د خپلواک کميسيون څخه ډاکټر سريا صبحرنګ د بشر د حقونو د څار ادارې ته وکړه.

د بشر د حقونو د څارادارې وويل، د قانون هغه تعديل کوم چې د ميرمنو حقونه خوندي ساتي، د اهميت وړ دی، مګر د نظرونو د بدلون او د سوء استفادې د مخنيوي لپاره، مشرتابه ته هم اړتيا ده.

"دولت ته پکار دی چې خپل مسؤليت ته پام وکړي او د ميرمنو او نجونو د حقونو د خوندي ساتلو په برخه کې جدي واوسي،" ميرمن ريډ وويل. "ښاغلی ولسمشر کرزی د ميرمنو د حقونو په برخه کې د يو منځلاري په توګه د خپل شهرت د بيا ترلاسه کولو لپاره د ډيرو کارونو ترسره کول په مخ کې لري"

وروسته له هغه چې د نجونو ډير ښوونځي د طالبانو په لاس ونړول شول، په افغانستان کې د نج ونو زده کړې د نړيوالو بسپنه کوونکو لخوا ترهرڅه ډير سمبوليک عنصر وګرځيدلي . اګرچې د پام وړ لاسته راوړني شوي مګر بياهم د جنسيت د توپيرونو کچه لوړه ده . ډيرى نجوني اوس هم لومړنيو ښوونځيو ته نه ځي . يو ناهيلي کوونکې شمير نجوني چې د نجونو ۱۱ فيصده تشکيلوي، د ثانوي ښوونځيو په عمر کې دي مګر هغوي د ۷ څخه تر ۹ ټولګيو کې زده کړې کوي. يوازې ۱۰ فيصده نجوني د ۱۰ څخه تر ۱۲ پورې ټولګيو کې دي. دا پداسي حال کې ده چې د ښوونځي ته تلونکو نجونو او هلکانو ترمنځ د حيرانتيا وړ توپير موجود دى، ځکه چې د نجونو شمير نسبت هلکانو ته ډير ټيټ دى.

په افغانستان کې د ميرمنو د حقونو دغه مخ په خرابيدو وضعيت هغه مهال بيرته په اجندا کې ونيول شو کله چې د مارچ په مياشت کې د اهل تشيع د تبعيض څخه ډک د احوال شخصيه قانون د پارلمان له لوري تصويب او د ولسمشر لخوا توشيح کړل شو . کله چې د ملي او نړيوالو غبرګو نونو سره مخ شو، نو ښاغلي کرزي په نوموړي قانون کې د تعديل اجازه ورکړه مګر بياهم ډيرې داسې مادې پکښې شتون لري چې دشيعه مسلمانو ميرمنو په وړاندې يې د توند لارې څخه کار اخيستى ده، لکه دا چې ميرمني نشي کولاي چې د خاوند د اجازې پرته د کور څخه بهر ولاړې شي، مګر په ځيني خاصو حالاتو کې چې مناسب قانون دلايل ولري، او همدارنګه بل د ماشومانو د پالني حق ورکول يوازې پلرونو او نيکونو ته پکښې شامل دي.

"مونږ د اهل تشيع د قانون په برخه کې د نړيوالي ټولني د څرګندونو هرکلي وکړ – په حقيقت کې – هغوي ډيرې داسي غوره خبرې وکړې لکه څرنګه يې چې په ۲۰۰۱م کې کې کړې وې" دا خبره د ميرمنو د حقونو يو ې پلوى وګمه فروغ وکړه. "مونږ د نړۍ ژمني له ځانه سره لرو . مګر مونږ اوس هم ددې انتظار باسو چې هغوي به نور څه وکړي."

ښاغلي ولسمشر کرزى بايد د نوموړي قانون بيا کتنه وکړي ترڅو په پوره ډول سره د ميرمنو حقونو په پوره توګه خوندي کړي او هغه ميرمنو د واک په دندو بانديځ وګماري کومې چې په فعال ډول سره د ميرمنو د حقونو دفاع کوونکي وي، داخبره د بشر د حقونو د څار ادارې وکړه.

ميرمن ريډ وويل، "د اهل تشيع دغه قانون وښوده چې افغان ميرمنې په کومه کچه د سياسي جوړجاړي و او ماتو شويو وعدو ښکار ګرځي." "کرزى بايد خپل نوى دولت پداسي اشارو سره پيل کړي چې جوته کړي چې د هغه ولسمشرۍ دداسي حکومت جوړيدل غواړي کوم چې د مساوات غوښتونکى وي."

**د "مونږ د نړۍ وعدې له ځانه سره لرو: په افغانستان کې د ميرمنو حقوق" عمده سپارښتني**

- دولت او بسپنه کوونکي بايد د ميرمنو د حقونو پرمختګ او خوندي توب ته د هيواد د بيارغوني او د سياسي، اقتصادي او امنيتي استراتيژيو په توګه لومړيتوب ورکړي.

- دولت او ورسره ملاتړي بسپنه کوونکي بايد لوړه کچه د عامه پوهاوي کمپاين ترسره کړي او خلک پدې پوه کړي چې جنسي تجاوز د قانون د پلي کوونکو ادارو، قاضيانو، پارلمان، دولتي مامورينو او افغان ولس لخوا يو جرم پيژندل شوى دى . ددغه کمپاين څخه بايد هدف دا هم وي چې هغه نظر چې د جنسي تجاوز قربانيان يې د خپلو ځانونو لپاره تور داغ بولي بايد کمښت پکې راشي.

- دولت بايد د ودونو ثبت او راجسټر عام او اجباري کړي.

- ولسمشر بايد ټولو هغو ميرمنو ته د معذرت او جبران يو وړانديز خپور کړي کومې چې په غيرقانوني توګه سره د "کور څخه د تيښتي" په جرم بانديځ زنداني شوي وي.

- دولت د بسپنه کوونکو په ملاتړ باید د نجونو د ثانوي ښوونځيو په جغرافیایي پوښښ کې پراخوالی راولي، د هلکانو ځيني ښوونځي د نجونو سره په ګډو ښوونځيو واړوي، د سهار او ماسپښين دورې جوړې کړي او موجودو لومړنیو ښوونځيو ته د ثانوي ښوونځيو ټولګي ورزيات کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځينه ښوونکو په ګمارلو او روزلو کې ډيروالی راشي.

- دولت او ورسره ملګري ملتونه او بسپنه کوونکي باید د ۲۰۱۰ کال د راتلونکو پارلماني ټاکنو لپاره د ښځينه کانديدانو او رايې ورکوونکو لپاره د امنيت برابرولو ته لومړيتوب ورکړي.

- نړيوال بسپنه کووني او ملګري ملتونه د ښځو د چارو د وزارت سره يوځای باید په افغانستان کې د ټولو لګښتونو په جنسيت پورې اړوند يو عمومي تفتيش ترسره کړي.

ددې لپاره چې د "مونږ د نرۍ وعدې له ځانه سره لرو : په افغانستان کې د ميرمنو حقوق" ولولئ، په مهرباني سره لاندې ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ:
http://www.hrw.org/en/node/86807

د لاډير معلوماتو لپاره په مهرباني سره له لاندې مراجعو سره اړيکه ټينګه کړئ:
په امريکا کې، راشيل ريډ(انګليسي): 2291-468-646-1+ (ګرځنده ټلفون)
په لندن کې Brad Adams براد ادمز (انګليسی):2767-7713-20-44+ يا 333-728-447908+ (ګرځنده ټلفون)